

# د احمد شاه بابا شعرونه

کتابونه آنلاین کتابتون
WWW.KETABONA.COM

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَٰنِ الرَّحِيمِ

## لوي احمد شاه بابا يو ملي شاعر

لوي احمد شاه بابا د زمان خان ابدالي زوې په کال ۱۱۰۱ هجرې شمسې کي زيږيدلی دی. موريي زرغونه انا نوميږي، مور يې د الکوزو د کورنۍ ښځه وه. لوي احمد شاه بابا ټول خلک د يوه لوي پادشاه په حيث پيژني، مګر ډير خلک نپو هيږي چي دی يو لوي ملي او مبارز شاعر هم وو.

احمد شاه بابا يو هيواد دوست او ملي سمبول وو. ده په کوچنيوالې کي ديني علوم او خط او کتابت د خپل وخت دعالمانو څخه زده کړی وو، او د ښه سواد خاوند او په پښتو او دري ژبو کي ليکني کړيدي اوپه دواړو ژبو کي اشعا ر ليکلي دي، او د ښه قلم خاوند و.

لوي احمد شاه بابا د زمامدارۍ او پادشاهۍ تر څنګه د شعر او شاعرۍ سره ډيره علاقه او دلچسپي درلودله، او کله به چي د خپلو فتوحاتو او کارونو څخه فارغيده د مهمو حادثو او واقعو يا دبه يي په خپلو اشعارو کي کاوه او پدي ډول به يي شعرونه ليکل. لکه چي د يوه بري نه راستون شو نو دالا ندي شعريي ليکلی وو.

چي بر کړې مي خدای لاس په رقيبانو
چي له ياره سره خوښ هم کناره ځم
چي د هند د ملکو فتحه مي روزي شوه
ترو به زه د هند په لور په تما شه ځم
پر دا کړې داد دې خداې نشي پښيمانه
نو ايران لره په توغ په نغاره ځم
معشو قې د ايران ډيري تر کي شوخي
تر نګين مي ايران لاندي شاهانه ځم
زه تسخير د ولايت د خداي په داد کړم
په مد د د حبيب هره خوا تازه ځم
چي زما د ولايت فتحه روزي شوه
ترو به څه د يار له نازه کناره ځم
احمد شاه دنيا فا ني ګڼم چي نشته
دنيا پا ته له ايمانه به سره ځم

د ده د پښتو د اشعارو ديوان په کال ۱۳۱۹ هجري شمسي کي د علامه عبد الحی حبيبي په اهتمام د کابل په مطبعه چاپ شو. د بابا په اشعارو کي ملي، عشقي ، تصوفي، او اخلاقي برخي ليدل کيږي. د ده ديوان دوه نيم

زره بیتونه لري، په اشعارو کي یي د غزل ،رباعي ، قطعه ، مخمس او مربع برخي لیدل کیږي. د بابا د تصوفي اشعارو نمونه داده:

په اشنا به خبر نه شم
څو خبر نه شم له ذاته
که د خپلي خودۍ تیرشم
خود به زه شمه مر اته
معرفت به مي روزي شي
که فا ني شم و فنا ته
دا د یا ر مینه خوږه ده
په پریکړې سر ده زیاته

د بابا په اشعارو کي د تصوف او اخلاقو برخه ډیره بارزه ده، خو اشعاریي زیاتره ملي وطني او مېهني برخي لري، چي د وطن دوستۍ د احساساتو څخه ډکي دي. لکه په دې شعر کي چي دی خپل هیواد ته وایي. هیواده

ستا د عشق له وینو ډک شو ځیګرونه
ستا په لاره کي بایلي زلمي سرونه
تا ته راشمه زړګی زما فارغ شي
بي له تا مي اندیښني د زړه مارونه
که هر څو مي د دنیا ملکونه ډیر شي
زما به هیر نه شي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تخت هیرومه چي رایاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقیب د ژوند متاع به تارتار په کړم
چي زه وکاندم په هر لوري تاختونه
د فرید او د حمید دور به بیا شي
چي په تورو پښتانه کړي ګذارونه
که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا شي
زما خوښ دي ستا خالي تش ډ ګرونه
احمد شاه به دغه ستا قدر هیر نه کا
که وه نیسي د تمام جهان ملکونه

احمد شا بابا عارفانه طبع درلوده په داسي کي چي دی پادشاه هم وو. بیا هم یي د جلال اباد د حصارک د شاه فقیرالله او په پیښور کي یي د میا محمد عمر صوفیانو احترام ساته او د دوي سره یي صوفیانه تعلقات لرل. نو وایي:

زه که نن ورځې بادشاه یم
مغرور کله پخپل جاه یم
دغه ستا نظر په ما دی
که نه خاوري ستا د راه یم
بیا هم ستا په مهر شین شوم
مهر که نه وي وچ ګیاه یم
ته کریم یي زړه مي ریږدې
چه بنده د بې نیاز شاه یم
چه وګورم ستا لویي ته
په زارۍ دې صبحګاه یم
یاره لاس احمد ته ورکړه
ډوب د خپل عمل په چاه یم

د ژوند په هکله یي داسي عارفانه فکر کاوه. او د هر ي لحظي په تیریدو یي افسوس کړی دی. لکه چي وایي:

شیرین عمر چي تیریږي دریغه دریغه
د اوبو په څیر بهیږي دریغه دریغه
ولي زړه پري خبر نه دی له رفتنه
چي داهسي زر تیریږي دریغه دریغه
ولې هسي شوي بې غمه زما دله
عمر باد غوندي چلیږي دریغه دریغه
که هر څو په ډیر ناز جوړي کړي ماڼۍ
په ا رمان ځیني پاتیږي دریغه دریغه
دریغه دریغه اخر دریغه زما دله
چي مین جمله تیریږي دریغه دریغه
دا یاران لکه ګلونه د بهار دي
د خزان په تاو رژیږي دریغه دریغه
د هجران مثال دوزخ بیلتون ډبري

د عاشق په سر لګيږي دريغه دريغه
که پيدا نه واي ديدن بيلتون به مړوو
له ديدنه خون بهيږي دريغه دريغه
اشنايي په مثال ګل حاصل يي خار دی
خارشي سخت هله سوخيږي دريغه دريغه
احمد شاه به څه غم که وخت د هوش دی
د وصال نوبت غږيږي د ريغه دريغه

احمد شاه بابا په سياست کي هم د اسلامي ورور ګلوۍ پيروي کوله . ده په ډهلي، بخارا ، خراسان او بلوچستان کي يي د خپلو سيالانو پادشاهانو سره په صلحه، دوستۍ او اسلامي ورورګلوۍ کړه وړه سرته رسول.
احمد شاه بابا دومره مهربان او زړه سوانده پادشاه وو، چي حتي هغه واليان چي دده څخه يي تمرد او سر کشي کوله هيڅ وخت يي هغوي ته سزا نه ورکوله ، بلکي د عفوي څخه يي کار اخيسته.
دی د پښتنو د يووالې پسي سرګردان ګرځيده پخپل دغه شعر کي وايي،

قافله د عشق راغلې د کوم خوا ده
په زړګي باندي مي شپه کا څه غوغا ده
ټوله يو دي که غلجي که اودالي دي
ښه هغه چي يي د زړه سينه صفا ده
چي عمل يي د نيکۍ وي ميړه هغه
که ا غوستي يي ګډله د خا متا ده
پښتانه دې ټوله لاس سره يو کاندي
چي مو غزا هر لوري شا و خوا ده
بې زحمته راحت چيري مونده نشي
د احمد ځکه پر هر لوري غزا ده

احمد شاه بابا د ټولو جهانګيريو سره سره د مسلمانانو د وينو تويولو څخه ځان ژغوره. د سلطنت په کارونو کي يي د عدالت او پوره انصاف څخه کار اخيسته، او په همدي لحاظ يي د خلکو په زړونو کي خاص ځاي درلود او عام و خاص ورته د بابا لقب ور کړي وو. او د ميرويس نيکه او رحمان بابا په څېر د ملت د بابا په نامه يادېده.
دی هيڅ وخت غارتګر او خرابکار پادشاه نه وو، دی يو مظلوم دوست او منور شخصيت وو.
په همدی لحاظ ده ته د نيوه کې ګوته نيول کيده په دی لحاظ چي ده ١٦ ځلي د ډهلي تخت ونيوه او هر وار به يي هلته هندو سردار والي وټاکه ، او هغه به سرکشي وکړه ، بابا به بيا ورغی او هغه والي به يي وبخښه. دی

هند ته  د چورو چپاول د پاره نه تله، بلکه د مسلمانانو سره د مرستي او نجات لپاره تله. بله داچي ده نه غوښتل چي د خپل قدرت مرکز افغانستان بل چاته پريږدي، ده ته خپل وطن تر ټول جهان عزيز او ګران  وو. په همدې لحاظ ، تر نن ورځي پوري د ټولو افغانانو په زړه کي خاص  ځاي لري. او هر هغه زمامدار چي د خلکو زړه په لاس کي لري هغه ته به د بابا په ستر ګه کتل کيږي.

کاظم بيمار ننګرهاری

## هم شاعر هم پاچا

احمد شاه
چې خدای لوی کړی احمد شاهه
تل د خوارو دستګیري کړه

د احمد شاه بابا له نامه سره سمې ته معمولاً د پانی پت جنګ، پر هند باندې حملی، د تورو خرپی، او د میړانی رنګارنګ کیسی وریادیږي. دا خبری دومره ذهن ته راځي چې د ده د شعر ویلو او هنري ژوند برخه ګرد سره د سړي له یاده وځي. چاته دا نه وریادیږي چې ده دی د دومره جنګونو، سیاسی اصلاحاتو او د افغانستان د بنسټ ایښودو د کارنامو تر څنګ کله شعر هم ویلی وي. په داسی حال کې چې دی هم د ځینو لویو پاچهانو او سردارانو په څیر د تورې او قوي مټ تر څنګ د ښه قلم او ښی ادبي قریحی خاوند و او ځانته د نورو شاعرانو په څیر یو بشپړ دیوان لري. اروابناد عبدالرووف بینوا د افغانستان نومیالی نومی کتاب په دریم ټوک کې د ده په باره کې لیکي چې د شاعرانو او ادب د مینه والو سره یې مجلسونه کول او د شعر و شاعرۍ څخه یې خوند اخیست په تیره یې بیا د پښتو ژبې له ادب سره یې ډیره مینه درلوده او د پښتو ژبې په تاریخ کې د احمد شاه بابا دربار لومړی دربار و جې د پښتو ژبې لومړنی تدریسی کتاب په کې لیکل شوی دی. احمد شاه بابا خپل زامن هم د پښتنوالی په روح روزل نو ځکه یې د پښتو ژبې خوږ ژبي شاعر پیر محمد کاکړ زوی ته د ښوونکي په توګه ټاکلی و. او پیر محمد کاکړ د احمد شاه په امر د شهزاده سلیمان له پاره د معرفت الافغانی په نامه د پښتو تدریسی کتاب ولیکه او د هغه له مخې یې شهزاده ته د پښتو زبې یو اړ لاری چارې وروښودی. بده به نه وي چې اوس په دغه اړ کې د دغه نومیالي پښتون پاچا د شعر یوه نمونه چې د ډیلي په تخت ناست د وطن په یاد یې ویلې په ګډه سره ولولو:

ستا د عشق له مینو ډک شول ځیګرونه
ستا په لاره کې بایلي ځلمي سرونه

تاته راشمه زړګی زما فارغ شي
بې له تا مې اندیښني د زړه مارونه

که هر څه مې د دنیا ملکونه ډیر شي
زما به هیر نه شي دا ستا ښکلي باغونه

د ډیلي تخت هیرومه چې را یاد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه

د رقیب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چې په تورو پښتانه کا ګزارونه

د فرید او د حمید دور به بیا شي
چې زه وکاندم پر هر لوري تاختونه

که تمامه دنیا یو خوا ته بل خوا یې
زما خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه

احمد شاه به دغه ستا قدر هیر نه کا
که ونیسي د تمام جهان ملکونه

احمد شاه بابا په داسې عصر و زمان کې ژوند کاوه چې د هند د مغلو عظمت او جلال ختم شوی او تش نوم او درباري القاب او تشریفات ورپاتې وو. په ایران کې د نادر افشار د وژل کیدو نه وروسته د هغه هیواد په هره برخه کې کورنۍ جګړې پیل شوی وی او نور یې د دی توان نه درلود جې زر دی ځان سره راټول کړي. په شمال کې داسې قوي دولت نه و پاتې چې افغانستان ته د خطر ولري او د بخارا امیر نه یوازې دا چې پر بل چا یې یرغل نه شو کولای بلکه له ځان څخه یې د دفاع توان هم نه درلود.

ګواکي په دغه وخت کې د زمان د ټولو وختو پر خلاف چې پښتنو ته به یې یوه بلا له ځان سره درلوده دا ځل دوی ته د ګاونډیو هیوادو څخه ګاښ نه و او دوی کولای شول چې په بی غمه زړه خپل کورګی آباد کړي. خو احمد شاه بابا داسې څوک نه و چې یوازې دی د خپل کورګي په آبادولو قانع شي. هغه ډیر لوړ خیالونه درلودل او غوښتل یې چې د افغانانو پخوانی برم یو ځل بیا راژوندي کړي. داسې ښکاري چې دی په خپل دغه کار کې خپلې آرزو ته رسیدلې هم وي. او داسې وایي:

نن بیا هسې د ګلزار په ننداره ځم
چې له یاره سره خوښ هم کناره ځم

چې بر کړی مې خدای لاس په رقیبانو
ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم

چې د هند د ملکو فتحه مې روزي شوه
نور ایران لره په توغ په نغاره ځم

پر دا کړی داد د خدای نه شی پښیمانه

تر نګين مې ايران لاندې شاهانه ځم

معشوقې د ايران ډيرې ترکې شوخې
خدای چې راکي ترکې هند ته دوباره ځم

زه تسخير د ولايت د خدای په داد کړم
په مدد د حبيب هره خوا تازه ځم

چې زما د ولايت فتحه روزي شوه
تروه به څه د يار له نازه کناره ځم

احمد شاه دنيا فانی ګڼم چې نشته
دنيا پاته له ايمانه به سره ځم

احمد شاه بابا هم د پښتنو د نورو مشرانو په څير د خپل قام له بلپاتې بی اتفاقي څخه په تنګ دی او سره له دې چې په خپلو سوبو باندې وياړي خو په دی هم پوهيږي چې دغه برياليتوبونه يې د خپلو پښتنو وروڼو په توره بر لاسه کړی دی، خو بيا هم ګوري چې پښتانه په غلجي او ابدال باندې ويشل شوي دي. دی ورته وايي چې ټول غلجي او ابدال يو شان دي ټول وروڼه دي او ښه والی په اصل او نسب کې نه دی. ښه والی په پاکۍ او سړيتوب کې دی، ميرانه په ښه عمل کې ده، په ښو جامو او دنيا دولت کې نه ده، دی خپله قام ته وايي چې اوس د احمد شاه په هر لور تاختونه دي او لور په لور باندې غزا پيل شوی ده نو بايد لاسونه سره ورکړی او په يوه زړه او يو خوله د ده ترڅنګ ودريږی.

قافله د عشق راغلی له کوم خوا ده
پر زړګي باندې مې شته که څه غوغا ده

ټوله يو دي که غلجي که اودالي دي
ښه هغه چې يې د زړه شيشه صفا ده

چې عمل يې د نيکۍ دي ميړه هغه
که اغوستې يې ګدله د خامتا ده

پښتانه دې ټوله لاس سره يو کاندي
چې مو نن غزا هر لوري شا و خوا ده

بی زحمته راحت چیرې مونده نه شي
د احمد ځکه په هر لوري غزا ده

د احمد شاه بابا د عصر او تر ده د مخه د پښتو ژبې شاعرانو په یوه او بل ډول د تصوف په برخه کې شعرونه ویلي دي او دغه مفاهیم یې کله د زلفو او جانان، کله د وصال او هجران او کله کله هم په څرګنده توګه په خپلو شعرونو کې راوړي دي.

احمد شاه بابا هم ظاهری کثرت له واقعي وحدت څخه ګڼي. دغه ظاهدي کثرت د وجود مجازي شکل بولي او حقیقت په وحدت کې ګوري. د مینې په نړۍ نوتې هغه یې کبلې ده او بیا په دی جهان کې ځان د زلفو په هر تار جلا جلا ګرفتار بولي. په زړه پورې خو دا ده چې دی ځان د عشق ښکار نه بلکه عشق د خپلې مینې ښکار بولي او کله جې د خپل عمل خبرې ته راخي نو بیا په میکدې کې اوسیدل د قسمت له لاسه بولي.

زه هر ګوره نن د لوړو په حصار ځم
مثل نه لرم هیچیرې چې په شمار ځم

که مې خپله بلندي موجوده نه وي
لکه باد هسې د غرونو په کنار ځم

له وحدته چې په امر را بیرون شوم
د کثرت په ملکو هره خوا په ښکار ځم

دا د مینې ملک مې خپل کړ سر تر پایه
زه عاشق بندي د زلفو په هر تار ځم

د ناسوت په وهم ورک شوې عندلیبه
زه هغه ګل یم چې د مینې په بهار ځم

خپله مینه مې ښکاری تعلیم مې ورکړ
زه غرڅه په کړنګونو د کهسار ځم

ملکوت ګوره خاصان د سومعې کړم
همیشه د میخوارانو په بازار ځم

که آشنای مې چیرې ناز راباندې وکړي
دا مې نشته چې یمین ام که یسار ځم

که هر څو دا ستا د مينې ورى دروند دى
ولى تل د خسته زړونو په کتار ځم

احمد شاه ته  د زړه بورجل ته ګوره
بى ما څوک دى چې دا هسې په ګفتار ځم

څه کم نيمه پيړى پخوا د پښتو ژبى د نوى ادب يوه پهلوان عبدالروؤف بينوا د غنمو د وړى په نامه يو اثر له چاپه راويوست.  د غنمو وړى د پښتنو د سياسي تاريخ د هغه فصل په باب ليکل شوې چې پښتانه د ايران د نادر افشار د کورنى د استعمارنه د خلاصيدونه وروسته د يوى واحدى رهبرى په هڅه او لټه کې وو.  او بالاخره يې د دى واحدى رهبي له پاره د کندهار د شير سرخ بابا په زيارت کې لويه جرګه جوړه کړه.  د دى تاريخى لويى جرګې په نتيجه کې د پښتنو د تاريخ يوه اويه ستونزه حل شوه، پښتنو مشرانو د رايو په يوه خوله لوى احمد شاه بابا د خپل پاچا په توګه وټاکه، او احمد شاه بابا هم د معاصر افغانستان د موسس په توګه د پښتنو د پراخو او تيتو پرکو پرګنو په يو کولو لګيا شو.  د شير سرخ بابا په زيارت کې د پښتنو د خپلواک دولت اساس نه بلکه د يوې لويې امپراطوري اساس کيښودل شو چې د احمد شاه بابا په قول يې هند او ايران تر نګين لاندې وو، عبدالرووف بينوا د پښتنو د دى تاريخي جرګې په باب داسې وايي:

ارغنداو د غرو لمنې
د غاټول په ګلو سرې شوې
د دامان هوسۍ دي مستې
زرغونې ورته درى شوې

د باغو ونې وينښيرې
د بلبلو پرې نارې شوې
آسمان مځکه ټوله خاندي
نوې نوې ننداري شوې

واه، دا څه نوې ژوندون دى
دا نسيم راغې له کومه
چې يې نوى روح وطن ته
وباسه له خپل قدمه

به وا جوړ ملى اختر دى
نجونو سره کړه خپل لاسونه
په ملالو غاړو زانکي
د روپو سپين اميلونه

لور په لور يې خپاره کړي
پرتندي تور اوربلونه
له کيږديو راوتلي
پر دښتو کړي اتڼونه

زلميان هم ټوپک په غاړه
پښتنې ترانې وايي
په ملي جوش او خروش بيا
ننګيالي پلرونه ستايي

د شير سرخ بابا په مزار باندې سپين بيرغ رپيږي او د افغانانو د ملت مشران ترې لاندې راغونډ دي. يوه خوا او بلې خوا ته آسونه څغلي، د پښو ګرد يې آسمان ته بورته کيږي، بر شنه آسمان لاندې بورې څليږي، مځکه له هيبته ريږدي، د افغانان مشران سره مرکه دي او کشران د خپل کاروان سالار د ټاکل کيدو انتظار باسي. دا وخت صابر شاه ملنګ په دی حساس وخت کې د افغانانو د ملي مشرانو او سپين ږيرو بر منځ د توپيرونو او جرګو مرکو د پای ته رسولو په مقصد راپاڅيږي او د احمد شاه بابا په پګړۍ د غنمو وږې ټومتي. هغه ته د پاچاهي مبارکي ورکوي او داسې ورته وايي:

تخت و تاج دی مبارک شه
د پښتون ټبر زلميه
دا ملت دی پر تا لوړ شي
پر غليم شوی بريااليه

ستر واکمن شوې د دی خاورې
رب دی ستر لره زمريه
د ولس په غم شريک شه
ملت ويښ کړه ننګياليه

يو ګړی غفلت و نه کړې
واک ستا سوله دی پسه
په دردو يې ځان خبر کړه
لاس دی مينځه له هوسه

نور د هیڅ شي کمي نشته
خو تنها چې تربیه شي
په ملی روح یې ژوندون وي
له تقلیده بیګانه شي

یو د بل په غم شریک وي
له نفاق څخه ګوښه شي
خپل ځان وپیژني هسې
چې پر ځان باندې تکیه شي

اوس نو ستا و لاس ته ګوري
ملا دی وتړه احمده
د خپل قام په خدمت پاڅه
مرسته غواړه له احده

د صابر شا له دریې وینا څخه وروسته وار د شیر سرخ د جرګې یو بل درانه مشر حاجی جمال خان د بارکزیو د قبیلې سردار ته ورسید، حاجی جمال خان احمد شاه ته بیعت ورکړ، د مشرتوب او پاچاهی مبارکی یې ورته وویله هغه ته یې وویل چې نور نو د پښتنو سترګې تاته دی زموږ پر تا باور دی او د خدای په مرسته به پر تا سرلوړي شو. دا ټاټوبی به ودان شي او زموږ ټولو زړونه په دغه زیري سره ښاد دي. حاجي جمال خان وروسته داسې وویل:

بست به شي آباد له سره
بیا به جوړې کنډوالی شي
هرې خواته به روانی
د سرو اوښو قافلی شي

په څپو به هلمند راشي
هر طرف ډکې شیلې شي
چې هلمند به په څپو کې
دوی ته کړی زاړه نکلونه

په ورو ورو به یې څرګند کړي
خپل د زړه پټ ارمانونه
شکر شکر خدایه تاته
چې دی مشر راپیداکه

اوس د دی زلمي مل شي
خپله مرسته ور عطا که

چې دا تيت ولس راټول کړي
له بيلتونه يې جلا که
په يو آواز راپاځي
يو له بله سره ملا کا

له فراه نه تر هريه
له زرنجه تر زابله
ټول ملت په يوه زړه شي
له تخاره تر کابله

عبدالرووف بينوا د حاجی جمال خان له وينا وروسته د نور محمد خان علی زی وينا راوړي او هغه احمد شاه ته له مبارکی ويلو سره وايي چې ګوندي ستا په برکت د افغانانو زوړ برم راژوندې شي او ستا د تيرې تورې له بريښه په دښمن باندې لړزه راشي.  نور محمد خان د خپلی اوږدی او احساساتي وينا په ترڅ کې داسې وايي:

که ظاهر يم تر تا مشر
يا له تا مې ډير ولس دی
که جګړی مې بر لاس لاندې
يا ملت زما په وس دی

خو ډير زور مې دی په لاس کې
دا قدرت رالره بس دی
مشر توب نه غواړم څکه
کشرتوب ته مې هوس دی

نه چې پيښ رانه ورانی شي
څه غبرګون به کړم په حشر
يې منلی مې په سترګو
زه يم کشر ته يې مشر

عبدالرووف بينوا وروسته د قام د نورو مشرانو لکه محبت خان، نصرالله خاه، موسی خان احساساتي او د افغانی غرور څخه ډکې ويناوی يو پر بل پسې راوړي او د جرګې په پای کې په خپله د لوی احمد شاه بابا وار چې

د عمر په لحاظ تر ټولو قومي مشرانو کشر دی رارسيږي. احمد شاه بابا له يوې خوا د خپل قام د سپين ږيرو د مينې ډکې ويناوی اوري او بلې خواته ګوري چې افغان زلمي په جنګی آسونو سپاره او د تورو ځلا يې د لاهور او پانی پت د وهلو زيری ورکوي. احمد شاه بابا هم د مينې دغو ډکو صحنو دی ته وهڅاوه چې د افغانانو سپين ږيرو په جرګه کې ورديږي او خپل قام ته داسې وواييي:

د لوی خدای دا اراده وه
چې زه مشر کړمه ستاسو
له همدغه مرسته غواړم
غوښت مې دی په دواړو لاسو

چې پښتون بيا را ژوندې کړم
لکه و چې هسې بيا سو
ټوله يو لاس يو ولس سو
بيګانه له ملکه باسو

يو د بل په ژبه پوه شو
چې موږ څه يو څه به شونه
د ژوندون لارې دي کومې
موږ به کومې خواته ځونه

که موږ يو له بله پوه شو
نور کارونه ټول آسان دی
ضروری تر هر څه موږ ته
پيژندل لومړی د ځان دی

ځان به ويښ کړو هری خواته
هری خواته غليمان دي
يو پر بل مو سره وژني
وايي دوستان يو دښمنان دي

زموږ زلميان وينو کې رغړي
دوی چکچکی کړی خندا کړي
منتظر دي هغه وخت ته
چې به کله موږ تباه کړي

زه يم ستاسی تاسي زما ياست
په وحدت خدای خوشحاليږي
آ ولس چې لاس يې يو وي
ژر مقصد وته رسيږي

هم په علم هم په توره
له هيچانه نه پاتيږي
که کرهنه ودانی ده
يو د بل په مرسته کيږي

که پوهنه که عظمت دی
که ميړانه شان، شوکت دی
ودانی يا که عزت دی
ټمر هر يو د وحدت دی

د ښار نجونی او ښځې چې د پشتنو له دود سره سم يې د پښتنو په دغه جرگه کې برخه نه وه اخيستې، د دی خبر له اوريدلو سره خوشاليږي او د احمد شاه بابا مور زرغونی انا ته د مبارکي لپاره ورځي، زرغونه د دی خبر په اوريدلو له خوشالي په جامو کې نه ځائيږي د خوښۍ اوښکې او موسکا يې سره گډه ده، د خدای شکر ادا کوي چې داسې زوی يې ورکړی دی چې د ټولو افغانانو وربانديې باور دی او د يوه ملي مشر په توگه يې مخې ته کړی دی.  زرخونه انا خدای ته لاسونه پورته کوي او وايي:

خدای دی وکي چې دوا شي
ما هم دی غوښت دی دپاره
چې خدمت د قام وطن کړي
ځان کړي خوار په دغه لاره

د نيکونو نوم ژوندې کړي
قام وژغوري له ناتاره
د پښتون جنډی کړي پورته
له خيبره تر خيساره

زه به هله دی زوی بولم
چې پاشلی ولس غونډ کړي
د زمري زړو پوځونه
و هر لوری ته ورپنډ کړي

ستاسی هم پالنه وکړي
ومو ژغوري له خواريه
و پوهنی ته مو مخ شي
شي مخ څټ له ناپوهيه

هم هر پلار به خبر وی بل
د خپل لور له بيوزليه
چې د لور غوښې ونه خوري
شي بيزار له خونخواريه

هر ميړه پوه کړي په دی
چې ميرمن هم لري حقونه
که ميرمن په کور کې نه وي
څه به خوند وي له ژوندونه

ليکونکې: باري جهانی

## شعرونه په يو ځاي کې

نن بيا هسې د ګلزار په ننداره ځم
چې له ياره سره خوښ هم کناره ځم

چې بر کړی مې خدای لاس په رقيبانو
ترو به زه د هند پر لور په تماشه ځم

چې د هند د ملکو فتحه مې روزي شوه
نور ايران لره په توغ په نغاره ځم

پر دا کړی داد د خدای نه شی پښيمانه
تر نګين مې ايران لاندې شاهانه ځم

معشوقې د ايران ډيرې ترکې شوخې
خدای چې راکي ترکې هند ته دوباره ځم

زه تسخير د ولايت د خدای په داد کړم
په مدد د حبيب هره خوا تازه ځم

چې زما د ولايت فتحه روزي شوه
تروه به څه د يار له نازه کناره ځم

احمد شاه دنيا فانی ګڼم چې نشته
دنيا پاته له ايمانه به سره ځم

قافله د عشق راغلی د کوم خوا ده
پر زړګی باندی مې شپه کا څه غوغا ده

ټوله یو دی که غلجی که اودلی دی
ښه هغه چه یی د زړه ښیښه صفا ده

چه عمل یی د نیکۍ وی میږه هغه
که اغوستی یی ګدله د خمتا ده

پښتانه دی ټوله لاس سره یو کاندی
چی مو نن غزا هر لوری شا و خوا ده

بی زحمته راحت چیری مونده نسی
د احمد ځکه پر هر لوری غزا ده

شیرین عمـــر چی تیریږی دریغـه دریغه
د اوبـــو په څیــــر بهیـــږی دریغه دریغه

ولی زړه پـــری خبر نه  دی لــــه رفتنه
چی داهسی زر تیـــــــریږی دریغه دریغه

ولې هسی شــــــوی بـــی غمه زما  دله
عمر باد غوندی چـــــــلیږی دریغه دریغه

که هر څو په ډیر ناز جـوړی کړی ماڼۍ
په ا رمان ځینـــــــی پاتیږی دریغه دریغه

دریغه  دریغه  اخـــــــــر  دریغه  زما  دله
چی مین جمله تیـریــــــږی دریغه دریغه

دا یــــاران  لکـــه  ګلــــونه د  بهار  دی
د خـــــــزان په تاو رژیږی دریغه دریغه

د هجران مثال دوزخ بیـــــلتـــون ډېری
د عاشق په سر لګیږی دریغـــــــه دریغه

که پیدا نه وای دیدن بیلتـــون به مـړوو
له دیدنه خـــــــون بهیږی دریغه دریغه

اشنایی په مثال ګل حاصل یی خـــــار دی
خارشی سخت هله سوخیږی دریغه دریغه

احمد شاه به څه غم که وخت دهوش دی
د وصال نوبت غـــــړیږی د ریغه دریغه

زه هر ګوره نن د لوړو په حصار ځم
مثل نه لرم هیچیرې چې په شمار ځم

که مې خپله بلندي موجوده نه وي
لکه باد هسې د غرونو په کنار ځم

له وحدته چې په امر را بیرون شوم
د کثرت په ملکو هره خوا په ښکار ځم

دا د مینې ملک مې خپل کړ سر تر پایه
زه عاشق بندي د زلفو په هر تار ځم

د ناسوت په وهم ورک شوې عندلیبه
زه هغه ګل یم چې د مینې په بهار ځم

خپله مینه مې ښکاری تعلیم مې ورکړ
زه غرڅه په کړنګونو د کهسار ځم

ملکوت ګوره خاصان د سومعې کړم
همیشه د میخوارانو په بازار ځم

که آشنای مې چیرې ناز راباندې وکړي
دا مې نشته چې یمین ام که یسار څم

که هر څو دا ستا د مینې وری دروند دی
ولی تل د خسته زړونو په کتار څم

احمد شاه ته د زړه بورجل ته ګوره
بی ما څوک دی چې دا هسې په ګفتار څم

ارغنداو د غرو لمنې
د غاټول په ګلو سرې شوې
د دامان هوسۍ دې مستې
زرغونې ورته درې شوې

د باغو ونې ویښیږي
د بلبلو پرې نارې شوې
آسمان مخکه ټوله خاندي
نوې نوې ننداري شوې

واه، دا څه نوې ژوندون دی
دا نسیم راغې له کومه
چې یې نوی روح وطن ته
وباسه له خپل قدمه

به وا جوړ ملی اختر دی
نجونو سره کړه خپل لاسونه
په ملالو غاړو زانګي
د روپو سپین امیلونه

لور په لور یې خپاره کړي
پرتندي تور اوربلونه
له کیږدیو راوتلي
پر دښتو کړې اتڼونه

زلمیان هم ټوپک په غاړه
پښتنې ترانې وايي
په ملي جوش او خروش بیا
ننګیالي پلرونه ستایي

تخت و تاج دی مبارک شه
د پښتون ټبر زلمیه
دا ملت دی پر تا لوړ شي
پر غلیم شوی بریالیه

ستر واکمن شوې د دی خاورې
رب دی ستر لره زمریه
د ولس په غم شریک شه
ملت ویښ کړه ننګیالیه

یو ګړۍ غفلت و نه کړې
واک ستا سوله دی پسه
په دردو یې ځان خبر کړه
لاس دی مینځه له هوسه

نور د هیڅ شي کمي نشته
خو تنها چې تربیه شي
په ملی روح یې ژوندون وي
له تقلیده بیګانه شي

یو د بل په غم شریک وي
له نفاق څخه ګوشه شي
خپل ځان وپیژني هسې
چې پر ځان باندې تکیه شي

اوس نو ستا و لاس ته ګوري
ملا دی وتړه احمده
د خپل قام په خدمت پاځه
مرسته غواړه له احده

ستا د عشق له وينو ډک سوه ځيګرونه
ستا په لاره کې بايلي زلمي سرونه
تا ته راسمه زړګی زما فارغ سي
بې له تا مې انديښنې د زړه مارونه
که هر څو مې د دنيا ملکونه ډير سي
زما به هېر نسي دا ستا ښکلي باغونه
د ډهلي تخت هېرومه چې را ياد کړم
زما د ښکلي پښتونخوا د غرو سرونه
د رقيب د ژوند متاع به تار په تار کړم
چې په تورو پښتانه کا ګوزارونه
د فريد او د حميد دور به بيا سي
چې زه کاندم پر هر لوري تاختونه
که تمامه دنيا يو خوا ته بل خدا يې
زما خو خوښ دي ستا خالي تش ډګرونه
احمد شاه به دغه ستا قدر هير نه کا
که ونيسي د تمام جهان ملکونه

چي بر کړي مي خدای لاس په رقيبانو
چي له ياره سره خوښ هم کناره ځم
چي د هند د ملکو فتحه مي روزي شوه
ترو به زه د هند په لور په تما شه ځم
پر دا کړي داد دي خداي نشي پښيمانه
نو ايران لره په توغ په نغاره ځم
معشو قي د ايران ډيري تر کي شوخي
تر نګين مي ايران لاندي شاهانه ځم
زه تسخير د ولايت د خداي په داد کړم
په مد د د حبيب هره خوا تازه ځم
چي زما د ولايت فتحه روزي شوه
ترو به څه د يار له نازه کناره ځم
احمد شاه دنيا فا ني ګڼم چي نشته
دنيا پا ته له ايمانه به سره ځم

**Love for Nation**

By blood, we are immersed in love of you .
The youth lose their heads for your sake .
I come to you and my heart finds rest .
Away from you, grief clings to my heart like a snake .
I forget the throne of Delhi
When I remember the mountain tops of my Pushtun land .
If I must choose between the world and you ,
I shall not hesitate to claim your barren deserts as my own.